AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

فاروق تمیز

۲۰۱۳/۰۵/۰۷

# خیالونه، خوبونه او حقایق

## خیال

### افغانانو! د پاکستان تاج او تخت ستاسو د نیکو میراث دی!

د خیالاتو په سفر کښی حیران روان وم نه پوهیدم چه په تپه تیاره کښی چیرته ځم او یا په کوم لور باید ولاړ شم. بیری او هیبت نیولی وم زړه می درپیده چی خدایه په دی ځای کښی څه به پیښ شی؟ دی حالت ډیر دوام ونکړ چه له لری رڼا ښکاره شوه او زما د پکر په خوا را نژدی کیده. یو سپین ږیری چه ښکلی جامی ئی اغوستی وی په ډیر محبت راته سلام وکړ او په گفتار شو چه غم مکوه ورک شوی نه ئی دا ستا د خیالاتو نړی ده چه واکدار ئی زه یم. هر څه چه ته دلته ووینی هغه به ستا په ژوند کښی پیدا شی. ستا دنیا د دی ځای هنداره ده ټول شیان اول د خیلاتو په عالم کښی جوړیږی بیا څیره ئی ستا په عالم کښی ښکاره شی، که دلته نه وی هلته هم نشته. زه په شک او بیگمانی کښی ډوپ شوم چه لویه خدایه دا سړی څوک ده او دا څه ډول خبری کوی؟ سپین ږیری چه زما له پکرونه خبر وو او هیڅ ښی ورڅخه پټ پاتی کیدی نه شو، په خندا را ته وویل چه ای د انصاف خاونده! ولی ته زما په خبرو شک لری؟ ستا د قناعت لپاره راشه د خپل وطن د نامتو بچی سلطان محمود غزنوی له خولی یو څو خبری واوره چه گمان دی راشی.

د سلطان محمود غزنوی تصویرونه چه د تاریخ په کتابو کښی ما لیدلی وو، یو پلا د پاچاه په شان له لښکر، تاج او توری سره مخ ته ظاهر شو چه د قدرت او هیبت توان ئی له سړی نه سا ایستله. دی زورور شخصیت شروع وکړه چه دا سپین ږیری رښتیا وای د هندوستان تاج او تخت ما دلته د خیلاتو په نړی کښی جوړ کړ او بیا می ټول ځنځیرونه چه زه ئی په غزنی کښی محدود او قانع ساتلم مات کړل. اوس که تاسی په خپله زمانه کښی هم غواړی چه د عزت او قدر خاوندان شی نو د افغانستان په حدودو ټینگار او قناعت مکوی د پاکستان تاج او تخت تیاره مړی ده ورشی د پنجابیانو او سندیانو له تسلط نه ئی و باسی او لوی افغانستان جوړ کړی. بم اتم چه ایرانیان ورپسی ځانونه وژنی مفته به په لاس درشی، سمندرو ته به لار پیدا کړی او د پاکستان ټول علما، کاریگر اوخزانی به ستاسو شی. گوری څو طالبان پاکستان ته ننوتی دی د خلکو له سگمو دودونه وځی که تاسی ټول ور داخل شی او دیورند لری کړی هغه کوم استعداد چه د تاریخ له برکته په تاسو کښی موجود ده هیڅ پاکستانی به ستاسو تاب و نلری او پاچاهی به خامخا تاسو ته خوشی کوی.

پاکستان مخ په ړنگیدو ده افغانانو ته لکه سور ور په خیټه کښی ځای ورکوی، دیرش کاله چیغی وهی چه افغانانو خپل ملکونه تسلیم شی. ستاسو مشران کم عقل دی چه د لوی خدای په اشارو او رمزو نه پوهیږی چه پاکستان نسکور کړی او د لوی افغانستان بیرغ پورته کړی. زه سلطان محمود چه پاچاهی ته ورسیدم، سمدلاسه می د هندوستان تاج او تخت په خیال کښی جوړ کړ او د پاچاهی په اولو کلو کښی د هندوستان خزانی خپلی کړی. په تاسو څه ټکه ولیدلی ده چه تیاره مړی خوړلی نشی؟ تاسو باید د جهاد په لمړیو ورځو کښی د پاکستان لکی پری کړی وای او لوی افغانستان مو نړی ته معرفی کړی وای. همدا اوس هم پنجابیان اجل نیولی دی غواړی له افغانانو سره زور ووهی او ملکونه سره گډ او یو ځای کړی. بیم ملری پدی کار کښی ستاسو گټه ده وړوکی افغانستان به مو په لوی افغانستان بدل شی، پنجابیان او سندیان به یا ستاسو نوکری کوی او یا به ځان ته بیل وطن جوړ وی. مهم شرط داده چه د افغانستان پښتانه، تاجک، هزاره او اوذبکان دا کار په گډه وکړی او د پاکستان پښتانه او بلوچیان هم خپل کړی. ځای په ځای پاتی کیدو کښی ترقی نشته اسلام په توره او جهان گشایی په نړی کښی خپور شو. ویښ شی د طالبانو مخ د پنجابینو په لور واړوی او د واړه افغانستان په ځای د لوی افغانستان پکرونه او خیالات شروع کړی. یواځی ستاسو تاجکان بس دی چه پنجابیان او سندیان په گوتو و څرخوی. دی کار ته واړه او ناقص لیډران لکه گوډاگی کرزی او د ربانی زوی په درد نه خوری، له تقوا او ایمانداری نه ډک سترو رهبرانو ته ضرورت لری چه خلک د عدالت، تقوا او پوهی په لور روان کړی. ښځی باسواده کړی چه سالم نارینه وروزی او ټولنی مو با ارزښه شی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا حقیقت و منی چه ستر قدرت کیدل په توسعه او ترقی لاس ته راځی، په هګی کښی پاتی کیدل مرګ او مرداره راوړی. لوی افغانستان که څوک خیال بولی د واړه افغانستان پکرونه بلکل لیوونتوب دی. آبرومند ژوند که غواړی نو خپل پکرونه او خیالات آزاد او لوړ وساتی. خدای هر قوم او هر خاوری ته خاص استعدادونه ورکړی دی چه دهر ځای میوه خپله مزه لری. افغانستان داسی خاوره ده چه بچیان ئی که په کور کښی پاتی شی په خپل منځ کښی به وهل او ټکول کوی، اما که بهر ته ووځی بیا د نور په مقابل کښی دوی اتحاد لری. ګوری چه خپل ایمان خالص وساتی او د کاذبو واعظینو او دینی تاجرانو په دام کښی ونه ولیږی. سروری او باداری د افغانانو طبیعی خصلت دی، ورځینی ګټه واخلی او خپل ملک ته ترقی او پیشرفت راوړی. وسلام،
ستاسو د ملک پخوانی شاهنشاه، خاوری سلطان محمود غزنوی

د خیال پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ